# په ځینو ادیانو او افکارو کې توبه او د هغې اغېزې

لیکوال: څېړنیار عزیزګل (صافی)

په ځینو ادیانو او افکارو کې توبه او د هغې اغېزې
لیکوال: څېړنیار عزیز ګل (صافی)

# Repentance; its meaning and effects in Certain Religions and Schools of thoughts.

Researcher Aziz Gul Safi

2026

ISBN 978-9936-672-02-4

9 789936 672024

د افغانستان د اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د اسلامي علومو معاونیت

د عقیدې او ثقافت مرکز

د ثقافت ډیپارټمنټ

# په ځینو ادیانو او افکارو کې توبه او د هغې اغېزې

څېړنیار عزیزګل صافی

کابل- افغانستان

کال:۱۳۹۱هـ.ش

**د کتاب ځانګړنې:**

**د کتاب نوم:** په ځینو ادیانو او افکارو کې توبه او د هغې اغېزې

**لیکوال:** څېړنیار عزیزګل صافی

**ایډیټ او اهتمام:** څېړندوی ضیاءالحق سیند

**د چاپ کال:** ۱۴۰۴ل / ۱۴۴۷ هـ.ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** ستارهٔ همت مطبعه، کابل - افغانستان

**ISBN :** ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۷۲-۰۲-۴

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمدلله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.**

# فهرست

د لارښود استاذ گزارش ........................................ ۱
سریزه........................................................ ۵

## لومړی څپرکی

### د څېړنې شالید

۱- توبه کنندگان.............................................. ۱۵
۲- التوبه وظیفة العمر........................................ ۱۶
۳- توبه........................................................ ۱۶
۴- توبه در ایران باستان....................................... ۱۶

## دویم څپرکی

### د توبې پېژندنه

لومړی مبحث – د توبې لغوي او شرعي تعریف ........................ ۲۲
أ- توبه په لغت کې:........................................... ۲۲
ب- توبه په اصطلاح کې ......................................... ۲۹
ج- د گناه ډولونه............................................. ۳۵
د- توبې، مغفرت او عفوې توپیر ................................. ۴۳
هـ. - د توبې حاصله معنا....................................... ٤٤
دویم مبحث- د توبې ډولونه او شرطونه.......................... ٤٦
أ- د توبې ډولونه: ............................................ ٤٦
ب- د گناهونو زیانونه......................................... ۵۷
ج- د توبې شرطونه ............................................ ۵۹
د- د توبې وخت................................................ ٦۹

## دریــــم څــــپرکی

### په مختلفو دینونو کې د توبې حُکم


لومړی مبحث - په اسلام کې د توبې حُکم او فضیلت ........................ ۷۳
أ- د توبې حُکم ........................................ ۷٤
ب- د توبې فضیلت ........................................ ۸۱
دویم مبحث - په یهودیت او نصرانیت کې د توبې حُکم ........................ ۹٤
۱- په اسلامي نصوصو کې د بني اسرائیلو توبه ........................ ۹٤
۲- په یهودیت کې د توبې حُکم ........................................ ۹۹
۳- په نصرانیت کې د توبې حُکم ........................................ ۱۰۱
دریم مبحث - په نورو دینونو او افکارو کې د توبې حُکم او اغېزې ............ ۱۰۳
أ: اسماني دینونه ........................................ ۱۰۳
ب: غیر اسماني دینونه ........................................ ۱۱۰
د: په نورو دینونو او افکارو کې د توبې اغېزې ........................ ۱۱٤


## څلـــورم څــــپرکی

### د توبې لاملونه او اغېزې


لومړی مبحث – د توبې لاملونه ........................................ ۱۱۸
۱- د الله جل جلاله څخه وېرېدل ........................................ ۱۱۸
۲- الله جل جلاله حاضر او ناظر ګڼل ........................................ ۱۲۰
۳- د الله جل جلاله حقوق پېژندل ........................................ ۱۲۱
۴- الله جل جلاله ته په إخلاص سره راګرځېدل ........................................ ۱۲۳
۵- په زړهٔ کې د الله جل جلاله سره مینه پیدا کېدل ........................ ۱۲۵
٦ – مُجاهِده (کوښښ کول) ........................................ ۱۲٦
۷– هیلې لنډول او د اخِرت یادول ........................................ ۱۲٦
۸- د ګناهونو له عذابه وېرېدل ........................................ ۱۲۸

٩- نافِع عِلم ........................................ ١٣٠
١٠- په هغه څه مشغوله کېدل چې ګټه لري (له بېکارۍ څخه ځان ساتل) ١٣١
١١ - نظر ښکته کول ........................................ ١٣١
١٢ - له نېکانو سره ملګرتيا........................................ ١٣٢
١٣ - له بدو خلکو څخه ځان ساتل ........................................ ١٣٣
١٤ - د ګناهونو په زيان پوهېدل ........................................ ١٣٣
١٥- د مرګ يادول........................................ ١٣٤
١٦- د قبر له عذاب څخه وېرېدل ........................................ ١٣٥
١٧- د قيامت د ورځې له عذابه وېرېدل........................................ ١٣٧
١٨- جنت او دوزخ يادول ........................................ ١٣٨
١٩ - دُعا........................................ ١٤٠
٢٠ - حيا........................................ ١٤٢
دويم مبحث - د توبې اغېزې ........................................ ١٤٤
درېيم مبحث - د توبه‌نامې څرنګوالی ........................................ ١٤٧

## پينځم څپرکی

### په اسلام کې د توبې موارد او موانع

لومړی مبحث- په اسلام کې د توبې موارد او موانع ........................................ ١٥٢
أ: په اسلام کې د توبې موارد ........................................ ١٥٢
ب: په اسلام کې د توبې موانع........................................ ١٦٠
دويم مبحث- په يهوديت او نصرانيت کې د توبې موارد او موانع........................................ ١٧٩
أ- په يهوديت او نصرانيت کې د توبې موارد ........................................ ١٧٩
ب- په يهوديت او نصرانيت کې د توبې موانع........................................ ١٨٦
درېيم مبحث- په نورو دينونو او افکارو کې د توبې موارِد او موانع ........................................ ٢١٧
أ: په نورو دينونو او افکارو کې د توبې موارد........................................ ٢١٧
ب- په نور ودينونو او افکارو کې د توبې موانع ........................................ ٢٢٥

پایله.......................................................................................... ۲۴۲
وړاندیزونه ................................................................................. ۲۴۴
مأخذونه ................................................................................... ۲۴۵

# د لاربنود استاذ گزارش

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على رسوله محمد وعلى اله واصحابه اجمعين.

څېړنه د هرې متفکرې او د عالي فرهنګ درلودونکې ټولنې ډېره ارزښتناکه لاسته راوړنه ګڼل کېږي، ځکه د څېړنې په ترڅ کې حقایق څرګندېږي او د تېروتنې او زیان څخه مخنیوی کېږي.

باید دا له یاد و نه باسو چې د څېړنې ارزښت او اهمیت هله جوت کیدای شي چې د ټولنې خلک او دولت د هغې ملاتړ او درناوی وکړي. د بوعلي سینا د وینا په اساس که چېرې د صنعت او اکتشافاتو قدر په یوې ټولنه کې و نه شي، نو دغه الهي نعمت د هغه ځای څخه کډه کوي.

په دې اساس باید په هره ټولنه کې د څېړونکو خاص خیال وساتل شي. خصوصاً زموږ په جنګ ځپلي هیواد کې چې د هرې ټولنې څخه زیات څېړنې ته اړتیا لري.

د پورتنیو موضوعاتو په پام کې نیولو سره دا دی زموږ ارجمند ورور استاذ عزیزګل صافي د ثقافت د انسټیټوټ تکړه غړي (په ځینو دینونو او افکارو کې توبه او د هغې اغېزې) تر عنوان لاندې خپله علمي څېړنیزه رساله لیکلې ده.

په دې رساله کې مقدمه، پینځه څپرکي، پایله، وړاندیزونو او د څېړنې ماخذونه شامل دي؛ زما د اشراف لاندې د یو کال په موده کې د

نوماند څېړنيار رتبې څخه د څېړنيار علمي رتبې ته د ترفېع له پاره ليکل شوې ده. د دې رسالې په لومړي څپرکي کې: د موضوع شالید ته کتنه شوې او د توبې تاريخي بڼه يې د آدم عليه السلام د پيدايښت څخه رانيولې او تر خاتم صلى الله عليه وسلم پورې يې د بېلابېلو شرايعو په رڼا کې څېړلې ده او په دې هکله يې د ځينو تاليفاتو يادونه هم کړې ده.

په دويم څپرکي کې: د توبې پېژندنې تر عنوان لاندې د توبې لغوي او اصطلاحي تعريف، د توبې ډولونه او شرطونه څېړلي دي. د توبې په تعريف کې د تفسيرونو او نبوي صلى الله عليه و سلم احاديثو ترڅنګ د تابعينو، تبع تابعينو او مشهورو علماوو نظرونه ذکر کړي دي.

د دې څېړنې کې يې د توبې په هکله ډېر زيات تعريفونه راجمع کړي دي او بيا يې د تعريفونو په منځ کې مقايسه او د علماوو د نظرونهو په هکله مناقشه ذکر کړې ده. دا تعريفونه يې د اصلي مراجعو څخه د صفحې او جلد په ذکر کولو په علمي طريقه رانقل کړي دي.

په درېيم څپرکي کې: په اسلام کې د توبې حُکم او فضيلت، په يهوديت او نصرانيت کې د توبې حُکم او درېيم مبحث کې په نورو دينونو او افکارو کې د توبې حُکم او اغېزې يې څېړلې دي. په دې څپرکی: پر اسماني دينونو سربېره د توبې موضوع په نورو غير اسماني عقيدتي مکتبونو کې څېړلي او د هغوی نظرونه يې د مرجع او دقيق ريفرنس په ذکر سره نقل کړي دي.

په څلورم څپرکي کې: د توبې لاملونه، د توبې اغېزې او د توبه‌نامې څرنګوالی څېړلی دی.

په پينځم او آخري څپرکي کې: په اسلام کې د توبې موارد او موانع، په يهوديت او نصرانيت کې د توبې موارد او موانع او په نورو دينونو او افکاروکې د توبې موارد او موانع څېړلي دي او په پای کې يې پايلې، وړانديزونه او مراجع ذکر کړي دي. په دې څېړنه کې دغه ځانگړتياوې موجودې دي.

أ: د توبې په هکله نوي نظرونه راجمع شوي دي.

ب: د توبې موضوع د اسلام، نصرانيت، يهوديت او نورو عقيدوي او فکري مکاتبو کې په مجموعي توگه د يوې مشترکې موضوع په توگه څېړل شوې ده.

ج: يوه موضوع په څو مختلفو دينونو او افکارو کې په مقايسوي توگه بيان شوې ده او د هغوی نظرونه په لنډه توگه رانقل شوي دي او د توبې موضوع يوازې په اسلامي شريعت کې د بابونو، فصلونو په چوکاټ کې ذکر شوي، ځکه چې اسلام بشپړ دين دی. اما توبه په نورو دينونو او افکارو کې اسماني وي او که غير اسماني په داسې مشخصه توگه بيان شوې نه ده.

د پورتنيو دلايلو په نظر کې نيولو سره زه د لاربنود استاذ په حيث د باحث دغه بحث د علومو اکاډمۍ او نورو علمي څېړنيزو مرکزونو د علمي او څېړنېزو اصولو او معيارونو سره برابر گڼم او دغه رساله د استاذ عزيزگل صافي له پاره د نوماند څېړنيار رتبې څخه د څېړنيار علمي رتبې ته د ترفېع له پاره کافي گڼم او استاذ ته د الله جل جلاله له دربار څخه د لا زياتو برياوو او کاميابيو خواست کوم او د نشراتو رياست ته پېشنهاد کوم چې

دغه رساله دې د چاپ له پاره په پام کې ونیسي.، تر څو زموږ ګران هیوادوال د توبې د حقیقت په پوهېدلو سره د الله جل جلاله د فضل او رحمت مستحق وګرځي.

والسلام

څېړندوی عبدالهادي صافی

## سریزه

الحمد لله غافر الذنب وقابل التوب شديد العقاب، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وهو الكريم الوهاب، وأشهد أن محمداً عبده ورسـوله صلى الله عليه وسلم وبارك عليه وعلى آله الأطهار، وأصحابه الأخيار وعلى من اتبع سنته بإحسان الى يوم الدين.

توبه د عاصي او گناهگار انسان له پاره د خپلـو تېـرو بـدو عملونـو څخـه د پښېمانۍ او رجوع يوازينۍ لار ده، چې دا د اللـه تعـالیٰ لـوی نعمـت او د هغـه پيرزوينه ده چې انسـان تـه پـه ژوندانـه کـې د ښـو کړنـو د تـرسره کولـو او قـوي تصميم امېد وربښي.

که چېرې د توبې لاره د انسان له پاره خلاصه نه وی، نـو بنـي آدم نـه شـو کولای چې په څمکه کې راحت ژوند وکړي، ځکه د انسـان د وجـود پـه ترکيـب کې داسې دوه قوې او منفي عنصرونه وجود لري چې هر لحظه هغه تـه د گنـاه کولو انگېزه ورکوي او په بدو ورته امر کوي، نو دا دوه دوښـمنې قـوې د شـيطان او نفس څخه عبارت دي او د دې دوه دوښمنانو په مقابل کـې بيـا د انسـان پـه وجود کې دوه قوي مثبت عنصرونه هم شته، چې هغه د روح او پرښـتې (ملـک) څخه عبارت دي، تر څو انسان وکولای شي چـې د نفـس مهـار کولـو لـه پـاره د روح او عقل څخه مرسته واخلی او د شيطان د وسوسو او اغوا کولـو د دفعـې لـه پاره د مَلَکي الهاماتو او مشورو څخه گټه واخلي.

د انسان په اړه د قرآن‌کريم په ارشاداتو کـې راغـلي چـې فرمـايي: انسـان کمزوری (ضعيف) پيدا شوی دی. ځينې وختونو کې حتی ډېر غوره بنده‌گان د الله جل جل جلاله چې انبياء کرام دي او د عصمت صفت او مرتبه ورکـړل شـوې ده.

د لغـزش او تېروتنــې امکــان يــې شــته، د دې نقيصــې د جــبران او د انســاني شخصيت او د نفس د عزت د اعادې کولو لـه پـاره الله جل جلاله تـوبې تـه جـواز ورکړی دی.

توبه د الله جل جلاله ډېـر لـوی نعمـت او د عـاصي انسـان لـه پـاره ډېـر ښـه چانس او فرصت دی تر څو وکولای شي، له دې طريقه د پـاتې شـوو عملونـو او وختونو جبران وکړي او د الله جل جلاله رضـايت، خوښــي ترلاسـه کـړي او ځـان د الهــي دنيـوي او اُخـروي نعمتونـو مسـتحق وگرځـوي. توبـه د دې لحاظـه ډېـر اهميت لري او بايد په پوره توگه څېـړل شـوي وی، نـو مـا ځکـه دغـه موضـوع د تحقيق له پاره انتخاب کړه تـر څـو د دې طريقـه مسـلمان امـت تـه او ځـانگړي توگه د ځوانانو له پاره مو د خپل توان پـه انـدازه خـدمت کـړی وي او پـه علمــي ډگر کې مو ونډه اخيستې وي.

په درنښت

عزيزگل صافی